SHARIAT WEEKLY

شریعت

په اوونۍ کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

څلورم کال پنځه دیرشمه ګڼه پرله پسي (۲۲۵) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د صفرالمظفر (٤)د۱۳۷۸هـ ش کال د غوايي دمياشتي(۲۹)د۱۹۹۹ميلادي کال د مي (۲۰)

در حدود دو هزارو سه صد تن ماموروکارگر در فابریکه تصدي کود و برق مزار شریف مصروف خدمت اند

تصدي کود و برق مزار شريف با كيفيت بلند و به پيمانه قابل ملاحظه بي كود يوريا، توليد مي نمايند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد :

توليدات كود يوريا در تصدي كود و برق مزار شريف كه با داشتن چهل و چهار فيصد نايتروجن و كيفيت بهتر در سطح كشور هاي منطقه از اهميت ويژه يي برخوردار ميباشد ضرورت دهقانان و زارعين كشور را مرفوع ميسازد.

يك منبع مربوط ميگويد به خاطر خدمت هرچه بيشتر به زارعين محترم ولايات كشور يك كاروان انتقال كود يوريا شامل ۱۵ عراده وسايط مربوط ترانسپورت سكتور خصوصي از مزار- شريف عازم ولايات كابل و هرات گرديده كه يورياي متذكره به عين قيمتي كه د ر شهر مزار شريف به فروش ميرسد به دسترس زارعين محترم ولايات قرار ميگيرد پروسه انتقال كود يوريا از مزار شريف به ساير ولايات ادامه دارد.

منبع مي افزايد توليدات فابريكه متذكره از اثر كار و تدابير انجنيران و مامورين فني و فعال شدن يكپايه دستگاه توليدي ديگر از دو هزار و پنجصد تن به چهار و نيم هزار تن در يك ماه ارتقا نموده است و همچنان مشكلات كمبود برق مردم شهر مزار شريف و ادارات امارتي با توليد برق اين فابريكه تا حدي امكان مرفوع گرديده و همين اكنون دو هزار و سه صد نفر مامور و كارگر شب و روز در اين فابريكه مصروف كار ميباشند.

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ تاسي !، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهيزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

با تحكيم نظم و امنيت در كشور :

زمینهٔ عودت دوبارهٔ مهاجرین به وطن فراهم شده است

با تحكيم نظم و امنيت بهتر نه تنها فضاي زنده گي آرام براي همه اقشار و طبقات كشور مهيا گرديده بلكه زمينه عودت دو باره مهاجرين به وطن نيز فراهم شده است .

اين مطلب را محترم الحاج ملا- خاكسار آخند معين امنيتي وزارت امور داخله ضمن مصاحبه به خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر اظهار داشته گفت : منسوبين وزارت امور داخله به كمك و نصرت خداوند بي نياز در راه تأمين امنيت و نظم عامه

ص ٤

د اطلاعاتو او كلتور وزارت سرپرست محترم ملا امير خان متقي د مطبوعاتو او خپرونو د تنظيم او سمون په هكله غونډه كي :

هغه كسان چي موږ ته د ژبي او قوم په نظر ګوري د روسانو په شان زموږ دښمنان دي

موږ بايد د خپلو وياړونو د ساتني لپاره په ګډه اوچت او ګټور ګامونه واخلو

د هيواد د مطبوعاتو او خپرونو د ښه تنظيم او سمون په مقصد پرون د ليكوالو ، ځيرونكو د پوهنتون د استادانو او د مطبوعاتو د كاركوونكو په ګډون يوه پراخه غونډه جوړه شوه .

په دي غونډه كي له هغه وروسته چي د كلام الله مجيد ځو مبارك ايتونه ولوستل شول د اطلاعاتو او كلتور وزارت سرپرست محترم ملا امير خان متقي د خپلي وينا په ترځ كي د ډله ييزو اطلاعاتو په وسايلو كي د نشراتي فعاليت اساسي شاخصونه جوت كړل او پوهانو او ليكوالو ته يي بلنه وركړه چي په دي نازك او تاريخي پړاو كي ستاسو مسووليتونه او وجيبي له بل هر وخت نه زياتي درندي دي. ځكه د افغانستان اسلامي امارت د خپل توان په حدودو كي د فرهنګي كار او فعاليتونو لپاره ښه او لازم شرايط برابر كړيدي. او موږ بايد د خپلو وياړنو د ساتني لپاره په ګډه اوچت او ګټور ګامونه واخلو او د هيواد د ډله ييزو اطلاعاتو د وسايلو له لاري د افغانستان د مومن او مسلمان ملت هغه ارمان چي د څه د پاسه يو نيم مليون تنو انسانانو په شهادت سره تر لاسه شويدي وساتو موږ او تاسي ټول د دوستي په فضا كي، نه د دشمني په فضا كي ژوند وكړو. هغه

٤ مخ

د غازي مدرسي رنګه وداني بيا پاكه او ډېر ژر به ودانه شي

شريعت : د كابل ښار د غازي عالي مدرسي وداني چي د مسعود ، خليلي بدنامو ډلګيو د خپلمنځي جګړو په وخت كي ورانه شوي وه بيا ودانولو ته تياره او ډېر ژر به يي د بيا ودانولو كار پيل شي په دي هكله د نوموړي عالي مدرسي مدير محترم سردار محمد بريالي زموږ خبريال ته داسي

ص ٤

جاده هاي داخل شهر كندز ترميم و مورد بهره برداري قرار گرفت

به طول ٤ كيلو متر جاده هاي داخل شهر كندز ترميم و مورد استفاده ترافيك قرار گرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : به اثر توجه مسؤولين شاروالي ولايت كندز اخيراً به طول ٤ كيلو متر جاده هاي داخل شهر كندز كه در دوران رژيم هاي قبلي قسماً تخريب گرديده بود جغل- اندازي و مورد استفاده قرار گرفت .

همچنان ده ها پل و پلچك ترميم و جوي هاي داخل شهر به همكاري شاروالي ولايت كندز پاك كاري و راه هاي مواصلاتي بين شهر و ولسوالي هاي مربوط آن ولايت نيز قسماً ترميم و مورد استفاده قرار گرفته است .

به اساس موافقتنامه همكاري هاي علمي :

يك هيئت دانشمندان پوهنتون لومالنداي ايالات متحدهٔ امريكا وارد كابل شد

در ظرف كمتر از شش ماه عملاً فعاليت همكاريهاي علمي و مسلكي طبي آغاز خواهد گرديد

به اساس موافقتنامه همكاري علمي في مابين وزارت تحصيلات عالي امارت اسلامي و مؤسسه تحصيلي طبي پوهنتون لومالنداي ايالات متحده امريكا يك هيأتي از دانشمندان عرصه طبي پوهنتون مذكور ديروز وارد كابل شدند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : هيأت موصوف كه مشتمل اند بر داكتر جان كاگن رئيس ارتباط خارجه پوهنتون لومالندا ، داكتر گاردن هدلي ، داكتر مايكل ريان ، شاغلي گاري كراس ، شاغلي دنزيل گاروين نيلاس ، داكتر خوشحال ستانكزي و داكتر يوسف صادق اتباع افغاني مقيم امريكا و استادان طبي پوهنتون لومالندا بعد از ظهر امروز

ص ٤

آنچه كه در خارج در مورد حقوق زنان در افغانستان تبليغ ميگردد با حقايق تفاوت فاحش دارد

داكتر ميرمن جان كاگن

در شفاخانه رابعه بلخي ۲۰ بستر براي مريضان گوش - گلو و بيني اختصاص داده شده است

شريعت : چنانچه هموطنان عزيز اطلاع دارند شفاخانه رابعه بلخي شهر كابل از جمله شفاخانه هاي اختصاصي براي اناث بوده و داراي همه شعبات اختصاصي براي تداوي امراض مختلفه ميباشد ، محترمه دوكتورس نظيفه ولي شف ديپارتمنت گوش و گلو، بيني اين شفاخانه راجع به كار هاي شان به خبرنگار ما چنين معلومات ارائه داشتند :

تقريباً در يك هفته پنج الي شش عمليات در سرويس گوش و گلو شفاخانه صورت گرفته و ۳۰ بستر براي مريضان

ص ٤

تيم واليبال تصفيه خانه شبرغان برنده شناخته شد

در مسابقه واليبال كه ديروز بين تيم واليبال ولسوالي آقچه و تصفيه خانه شبرغان صورت گرفت مسابقه ۳ مقابل دو به نفع تيم تصفيه خانه شبرغان خاتمه يافت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در اين مسابقه كه از سوي آمريت تربيت بدني و سپورت ولايت جوزجان در ميدان هاي واليبال تفحصات نفت و گاز شبرغان بين تيم واليبال ولسوالي آقچه و تيم تصفيه خانه شبرغان صورت گرفت مسابقه ۳ مقابل دو به نفع تيم تصفيه خانه شبرغان خاتمه يافت.

دستگاه ساختماني تهيه مسكن طي سال گذشته ۱۲ پروژه بزرگ را زير دست گرفته است

دستگاه ساختماني تهيه مسكن از سال ۱۳٦۲ الي ۱۳۷۰ به تعداد ۱۳ پروژه بزرگ را به بهره دهي سپرده است و در ضمن ده ها پروژه ديگر را نيز به بهره برداري سپرده است .

تصدي از سال ۱۳۷۱ به اينطرف ۹ پروژه انتقالي كه داشت كار آن نسبت عامل جنگ متوقف و تا كنون به حالت خود

٤ مخ

د كابل ښار په ديني او عصري مدرسو كي نژدي ۱٤۲۸۷۱ تنه طالب العلمان په زده كړه بوخت دي

له مساعدو او ارامو شرايطو نه په استفادي سره نژدي يو سلو دوه څلويښت زره اته سوه يو اويا تنه طالب العلمان په روان كال كي د كابل ښار د مدرسو په بيلا بيلو ټولګيو كي د عصري او اسلامي علومو په زده كړه بوخت دي.

د كابل ښار د پوهني رئيس محترم مفتي عبدالرحيم د كابل ښار په مدرسو كي د لوست د چارو د څرنګوالي او د ښوونې او روزني د بهير د پر مخ بيولو په باره

٤ مخ

د تير كال په اوږدو كي څه د پاسه ٤٤٠٤٤ متر مكعبه جامد كثافات د كابل له ښار څخه ټول شوي دي

شريعت : د كابل ښاروالي د تنظيف او سرسبزي د چارو رئيس محترم ملا محمد عيسى د تنظيف او سرسبزي رياست د چارو په هكله زموږ خبريال ته وويل : د تنظيف او سرسبزي رياست په تير كال كښي ٤٤٠٤٤ متر مكعب جامد كثافات د كابل ښار له مختلفو كوڅو څخه راټول كړي او د خپلو وسايطو پوسيله يي له ښار څخه د باندي چمتلي دښتي ته انتقال كړي دي.

۹۰٤۸۰ كيلو متره سړك چي عمومي څلور لاري او د ښار د مركزي برخو سركونه په كښي شامل دي وقتاً فوقتاً جارو كېږي او جارو شوي دي.

۹۰۰ متر مكعب مايع كثافات د يو عراده تانكر پوسيله د شخصي كورونو

ص ٤

سنگ تهداب يك محراب مسجد در مربوطات خوست گذاشته شد

سنگ تهداب يك محراب مسجد اخيراً در قريه تريز ولسوالي تني ولايت خوست گذاشته شد. آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : اعمار مسجد متذكره به مصرف يكهزار و ششصد و شصت و پنج مليون افغاني در ساحه يك و نيم جريب زمين بطور پخته و اساسي كه گنجايش دو هزار نماز گذار را دارا خواهد بود به همكاري مردم محل طي سه ماه آينده به پايه اكمال خواهد رسيد.

داسي شخصيتونه چي زيات عمر يي په اروپا كي تير كړي وي په افغانستان كي رول نشي لوبولى

مسعود هڅكله په انتخاباتو اصرار نشي كولاي ځكه چي هغه خپل مخ په خپله هنداره كي ويني

غيرت بهير

سهار : په اسلام آباد كي اوسيدونكي يوه افغاني شخصيت داكتر غيرت بهير ويلي دي چي ظاهر شاه د افغانستان له جهاد څخه لري پاتي شوي، اوس د افغانستان حالات بدل شوي دي دلته ټول معبارونه انقلابي دي، په دي حالت كي داسي شخصيتونه چي زيات عمر بي په اروپا كي تير كړي وي په افغانستان كي رول نشي لوبولى، اوس په حقيقت كي ظاهر شاه په سياسي او فزيكي لحاظ مړ دي. همدارنګه شاغلي بهير د مسعود په هكله خپل نظر دارنګه څرګند كړ : زما په عقيده مسعود تل په جنګ

٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ايران يو ځل بيا د زړو ناكامو تجربو د تكرار په درشل كي

د روان هجري لمريز كال د غوايي د مياشتي په پنځه ويشتمه چي د هجري سپوږميز كال د صفر المظفر د مياشتي له لومړي نيټي او د يكشنبي له ورځي سره سمون خوري زموږ د غربي ګاوندي هيواد ايران له خاوري نه د افغانستان په سپيڅلي حريم باندي د هرات ، فراه او نيمروز په ولايتونو كي يو غلچكي يرغل تر سره شو چي دي غير مترقبه پيښي زموږ ډيرو ملكي هيوادوالو او په ځانګړي ډول ددي ولايتونو د قلعه ګاه او دانا اباد د سيمو اوسيدونكو ته په ډيره پيمانه ځاني او مالي تلفات ورارولي دي.

د ايران له خاوري نه د افغانستان په حريم باندي دا وسله وال تيري د

۲ مخ

د غزني ولايت د جاغوريو ولسوالي سركونه د ترافيكو د استفادي وړ وګرځيدل

د غزني ولايت د جاغوريو د ولسوالي د كليو مواصلاتي سركونه د پنځوسو كيلو مترو په اوږدوالي نوي جوړ او د ترافيكو د استفادي وړ وګرځيدل.

د باختر د اطلاعاتي آژانس خبر راكړ د غزني ولايت د جاغوريو ولسوالي د پښتنو خلكو او چارواكو د ګډو هلو ځلو او فعاليت له امله د پنځوسو كيلو مترو په اوږدوالي ددغو كليو مواصلاتي سركونه نوي جوړ او ددغو سيمو د خلكو ترانسپورتي ستونزي لري شويدي.

دور اول كمپاين واكسين پوليو در ولايت لوگر موفقانه انجام پذيرفت

شريعت : دور اول كمپاين واكسين ضد مرض پوليو كه از طرف وزارت صحت عامه به همكاري سازمان صحي جهان و مؤسسه يونيسيف براه انداخته شده بود در ولايت لوگر نيز موفقانه پايان پذيرفت .

محترمه حميده ابراهيمي يكتن از واكسيناتوران رياست صحت عامه ولايت لوگر در زمينه چنين ابراز داشتند : در دور اول كمپاين واكسين پوليو كه سه روز ادامه داشت هزاران تن از اطفال ولايت لوگر كه داراي سنين كمتر از ٥ سال بودند واكسين گرديدند . مردم متدين و شريف ولايت لوگر در اين كمپاين با كارمندان صحي همكاري هاي لازم نموده و داوطلبانه اطفال شانرا به مراكز تطبيق واكسين حاضر نمودند. اميدوار هستم تا دور دوم اين كمپاين نيز همچو دور نخست موفقيت را دارا باشد.

شريعت

دتاسيس كال : ١٣٧٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : عبدالرحيم «ثاقب»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
دبوي گڼي بيه : په هيواد كي (١٠٠٠) افغانۍ په پاكستان كې (٣) كلداري
پست بكس : (٤٧١) كابل - افغانستان تيلفون : ٢١٣٨١
په پېښور كې : دطالبانو نمايندگي تيلفون: ٨٤٤٣٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧
جاري حساب : ٤-٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مركز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

ټولو اسلامي، بين المللي او اخلاقي حدودو څخه سرغړونه بغاوت او د يو خپلواكه او په ازادي مين ولس سپكاوي گڼل كيږي. ايران بايد پدي پوه شي چي د دوي دي عمل د ټول افغان مجاهد ولس احساسات ټپي كړي او د يو مداخله كوونكي هيواد په سترگه يې د ايران په ضد جذبې او ولولې راپاريدلي دي. ايراني مقامات بايد داسي اوربل نه كړي او له داسي تعصب نه كاروانه خلي چي لمبې يې له ټول ايراني ملت نه راتاو شي. نړيوال په دي خبر دي چي دا كار د افغانستان د اسلامي امارت په كورنيو چاروكي د ايران لومړني مداخله نده او دا څو كاله كيږي چي په دي لجاجت لگيا دي، په افغانستان كي يې اوربل كړيدي د افغان مجاهد ولس دښمنان لمسوي او د وسلوا او پيسو په زور يې د خپلو هيواد والو په ضد جنگوي او د ايران ددي ناوړو گامونو او له اسلامي او بين المللي اصولو نه مخالفو كارونو په وړاندي د اسلامي امارت پراخه حوصله او د صبر او زغم ريكارډ هم د نړيوالو په وړاندي پروت دي.

ايراني واكمنو ته په كار دي چي د اسلامي امارت زغم او اسلامي اخلاقو ته اخلاقي ځواب ووايي او د دوي د نيكي مراودي په وړاندي يې معقول چلند خپل كړي وي خو متاسفانه چي ايراني مقامات له پيښو او قضايا و سره د معقول برخورد په ځاي د شرارت او فتني لمن نيسي او ځانته په خپل لاس دښمنان پيدا كوي. ايراني مقاماتو بايد اوس افغانان پيژندلي وي او د عقل په سترگو يې بايد دومره پردي نه واي پريښي، د افغانانو ډكي دقيقي او هري ثانيي تاريخ روښانه او حتي د همدوي په وړاندي پروت دي. له انگريزانو سره په دري ځله تاريخي جگړو كي د افغانانو سوبه، په دي وياړمن ټاټوبي كي د چنگيز ماتي، د پاني پت فتحه د مرهټانو او مغلو زغلول د دوي په وړاندي دي، په خپل لاس د شاه محمود هوتك په سر د دوي د صفوي شاه حسين د تاج ايښودل او د ټيټو سترگو تسليميدل همدا اوس د ميړنيو افغانانو په لاس د يو بل زبر ځواك (پخواني شوروي اتحاد) ماتيدل هغه حقايق دي چي ايراني مقامات ترې له هر چا ډير ښه خبر دي. نو نه پوهيږو چي دوي د كوم ډول تكبر په نيلي سپاره شويدي چي عقل يې هيڅ سرته نه ورځي.

د دوي له خاوري ددي برغل په مقابل كي همداسي بالمثله ځواب ته اړتيا ليدل كيدله خو اسلامي امارت بيا هم له صبر او زغم نه كار واخست او ددي مثل سره سم چي (كومه غوټه په لاس خلاصيږي نو خولي ته يې ضرورت نشته دي) د نظامي برخورد په ځاي يې له ديپلوماتيك او معقول برخورد نه كار واخست او د ايران د بهرنيو چارو وزارت ته د يو احتجاج ليك په وركولو سره يې هغوي ته يو ځل بيا خبر داري او اظهار وركړ.

زمونږ توصيه ايراني مقاماتو ته داده چي خپله گټه او تاوان يو ځل بيا ښه وڅيړي او په دي پوه شي چي دا ډول مداخلي د گاونډيو هيوادونو په گټه نه دي. ايراني مقامات ددي په ځاي چي بل ته اوربلوي بايد خپلي كورني شخړي حل كړي. خپل مات او گوډ اقتصاد ورغوي ايراني واكمنو بايد دا درك كړي وي چي په هيڅ ډول په افغانستان كي خپل شوم غرضونه نه شي تر لاسه كولي او نه خپل گوډاگيان په افغانانو تحميلولي شي. ايران چي په هغه وخت كي څه ونه كړلي شول چي په مزار كي يې په لسگونو اجيران حاكم وو، د باميانو مركزي چوك د خميني په نوم نومول شوي و د خراسان كبير او هزارستان نقشي رسمي شوي وي نو اوس چي هلته د اسلامي امارت سپين بيرغ رپيږي او د دوي د برېڅو كمبله يې چور ورټوله كړي ده څه به وكړي ؟

كه له ايراني واكمنو وپوښتل شي چي تاسي خو په افغانستان كي د لا شرقي و لا غربي چيغي وهلي نو اوس چي په افغانستان كي همداسي خپلواك نظام حاكم دي ولي يې مخالفت كوي نو د دوي ځواب به څه وي ؟

زمونږ توصيه يو ځل بيا ايراني واكمنو ته دا ده چي كه چيري دوي په ريښتيا هم د شرقي او غربي بلاكونو مخالف او د سوچه اسلامي نظام پلوي وي لو اوس خو په افغانستان كي همداسي نظام حاكم دي ښه به دا وي چي يو بل ته د ورورۍ د لاس په وركولو د يو بل منځ ځواكمن كړو.

دوي بايد نوري خپلي هغه ناكامي تجربي تكرار نه كړي او دا خيال دي پريږدي چي گويا يو ځل بيا به خپل هغه گوډاگيان په افغانانو وروتپي چي افغانانو هغوي د رټل شويو او ماتي خوړليو څهرو په توگه پيژندلي دي.

دوي بايد له تاريخ نه درس واخلي دوي ښه پوهيږي چي د تاريخ په اوږدو كي په افغانانو باندي ډير يرغلونه شويدي خو هر چا چي له دوي سره سرجنگولي دي برخليك يې بيا د دوي په وړاندي دي. نو كه چيري ايراني واكمن د افغانستان په اړه په خپل سياست كي بيا كتنه ونه كړي او د تعقل او تدبر د پاليسي په ځاي سر تمبگي او مخاصمت ته ترجيح وركوي نو يو ځل به بيا وگوري چي دا سودا ورته په څومره قيمت پريوزي!!

په تير پسې

لويه جرگه: حقيقت که هسې افسانوي مفهوم

ضرورت که فرمايش

قاضي محمد حسن «حقيار»

كه د لويي جرگي د شرعي حيثيت څخه په څنگ تير شوو او فرض كړو چي لويه جرگه له اسلام سره تطابق لري نو تاريخ شاهد دي چي د افغانانو په تاريخ كي چي څلور يا پنځه ځله كومه لويه جرگه دايره شويده نو يو ځل يې هم د افغانانو ستونزو ته د حل لاره نه ده موندلي د مثال په ډول كه د احمد شاه بابا تاريخي لويي جرگي ته وگورو نو وينو چي هلته هم د لويي جرگي گډون كوونكي د مسئلي د حل په بره مسوده نه متفق كيدل چي بلاخره صابر شاه ملنگ د خپل روحاني او معنوي فيض په بركت او د خپل لرليد له مخي احمد شاه بابا ته د مشري پگړي ور په سر كړله. او كه فرض كړو چي لويه جرگه د ستونزو د حل مثره لري نو آيا د افغانستان په اوسنيو شرايطو كي يې د دايريدلو څومره عملي امكانات موجود دي د بيلگي په ډول د لويي جرگي غړي خو د ولس له متن نه ټاكل كيږي او اوس خو د افغانستان ټول ولس د پخوا په څير په يو ځاي او په خپل كلي او كور كي ميشته نه دي ځني په افغانستان، ځني په پاكستان، يوه برخه په ايران امريكا، جرمني حتي د نړي په ټولو هيوادونو كي خور وور پروت دي نو كه د يو قوم يا ولسوالي نه، لويي جرگي لپاره استازي ټاكل كيږي نو دا به څه ډول ټاكل كيږي ؟ همدا راز لويه جرگه خو به په هاغه وخت دايريدله چي مركزي حكومت به نه وو نو اوس خو مركزي حكومت شته دي نو لويه جرگه يعني څه ؟ لويه جرگه خو د هيواد په حالاتو حاكم شخص راغوښتله اوس خو د افغانستان په څه د پاسه نوي په سلو كي برخه باندي د محترم امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد حكم نافذ او حكومت روان دي نو لويه جرگه به څوك را غواړي ؟ همدا راز لويه جرگه خو د افغانانو د خپل منځي كړكيچ د حل لپاره په دي ډول عنوانيدله چي د هيواد په داخل كي به وه او په خپله د افغانانو په نوبت به وه نو دا خو ښكاره خبره ده چي ددي جرگي لپاره به د دوي د نورو غونډو په څير كوم بهرني پردي هيواد په نظر كي نيول شوي وي او دا هم جوته ده چي د پرديو په نغو ته دا ناري سوري پيل شويدي. همدا راز افغانستان خو په تيرو شلو كالو كي له ډيرو پيچلو او سختو شرايطو نه تير شو لويه جرگه ولي په هغه وخت كي نه راغوښتل كيدله ؟ كه په اوسنيو شرايطو كي لويه جرگه دايره شي نو څوك دا تضمين كوي چي د دي جرگي گټه به له زيان نه ډيره وي ؟ كه خداي مكړه داسي شي چي دا روان امنيت ، حاكم شريعت او سوله ايزه فضا هم له منځه يوسي او په هغي هم څه گټه مرتبه نه شي نو بيا ؟ د هجرت او جهاد په وخت كي چي كوم خلك په افغانستان كي پاتي وو نو ځنو يې دلته له كمونستي گوندونو سره تړاو درلود او كوم خلك چي مهاجر شوي وو هلته يې له اسلامي گوندونو سره تړاو درلود او حتمي ده چي يو څه تاثير به يې پري پاتي دي نو دا تضمين څوك كوي چي د لويي جرگي دا ډول غړي به اسلامي او ملي گټو ته په خپلو تنظيمي گټو ترجيح وركوي كه لويه جرگه د علماء و ، پوهو، مخورو او سپين ږيرو څخه عبارت وي نو محترم ملا محمد عمر مجاهد خو هم يو لبيم زړو تنو علماؤ د امير المؤمنين په منصب وټاكه نو آيا افغانان نه ؤ ؟ آيا د افغانستان طالبان او د موجوده حكومتي ساختمان نور كاركوونكي پوهان او متخصصين افغانان نه دي؟ كه د كړكيچ حل مطلب وي نو ولي همدا موجوده امارت نه تقويه كيږي او ولي يې په مخالفينو فشار نه راوړل كيږي چي د يو كشر په صفت له اسلامي امارت سره خبروته كيني ؟

اوس چي دا جرگه د ظاهر شاه لخوا عنوان شويده نو كومي پوښتني چي د ظاهر شاه په اړه په ذهنونو كي اوري را اوري او له سري ته دا فكر وركوي چي د لويي جرگي دا پروسه حتماً د پرديو په اشاره روانه شويده په هغو پوښتنو كي يوه دا پوښتنه ده چي ظاهر شاه خو څه دپاسه څلويښت كاله د افغانستان پاچا او د افغانانو د گډ كور مشر ؤ او شل كاله كيږي چي دا ملت د وينو او زوبو په ډنډ كي ډوب او په اور سوزي نو آيا ظاهر شاه د كوم يتيم اوښكه ور پاكه كړه ؟ د كومي كونډي لوڅ سر يې وريټ كړ ؟ افغانستان چي لومړي تقريباً روسانو خوړلي او بيا وروسته د ويش د ښامار په خوله كي و او مڅكني بشپړتيا يې په خطر كي وه نو ظاهر شاه د يو وطندوست او افغان په توگه په دي اړه څه مسؤليت تر سره كړ ؟

افغانستان چي امريكايانو په كروز توغنديو وويشت تومورې نو د يو افغان په توگه څه غبرگون ښكاره كړ ؟ د روسانو په ماتي او د اسلامي نظام په نفاذ يې افغانانو ته د خوښي كوم پيغام راوليږه؟

اوس خو د ظاهر شاه عمر هم د پخوا په پرتله ډير زيات دي او تقريباً د عمر له پلوه كمزوري دي نو د جهاد په پيل كي خو دي د عمر له پلوه هم تكړه و دي هغه وخت چيري وو ؟

هيواد وال په دي شاهد دي چي هغه وخت كي چي ظاهر شاه دلته حاكم وو او كومي جرگي بي راغوښتلي نو قاطع اكثريت افراد يې انتخابي نه بلكه انتسابي وو حتي ده به واليانو ته لست ورولېږه چي وله فلاني سيمي نه فلاني شخص جرگي ته راوليږه، نو اوس به څه ډول د ولس ريښتوني استازي راوغواړي ؟

ددي ټولو پوښتنو سره سره داسي ښكاري چي ددي پروسي تر شاه د پرديو لاس دي زمونږ دا دعا د ثبوت لپاره (د ظاهر شاه د جرگي ته د امريكا حمايت، د ظاهر شاه لپاره د ايتاليا د بهرنيو چارو د وزارت هڅي او د سيمي هيوادونو ته ددي وزارت د مرستيال منهي را منهي ، په همدي وخت كي د دوه جمع شپږ هيوادونو پټه غونډه) كفايت كوي يو څه چي ډير روښانه ده هغه دا چي افغانان به هيڅكله هم د پرديو طرحي او پلانونه ونه مني او په ځانگړي ډول بيا د

د ننگرهار د ناوې د پراختيا پروژې د ۱۴۱۹ هـ ق كال د اجرااتو او فعاليتونو لنډ راپور

د ننگرهار د ناوې د پراختيا پروژه د افغانستان د اسلامي امارت د ډيرو لويو او مهمو زراعتي پروژو څخه چي د خاص اقتصادي او اجتماعي اهميت لرونكي ده شميرل كيږي .

د پروژې د جوړيدو اساسي هدف عبارت ؤ د وزگارو اشخاصو دپاره د كار د زمينې برابرول ، د زراعتي محصولاتو د حجم د زياتوالي ، د ماشيني زراعت سره د دهقان اشنا كيدل، د مختلفو نباتاتو خاصتاً د زيتون توليد او ترويج په مختلفو رشتو كي د فني او مسلكي كادرونو روزل او بالاخره د ملي اقتصاد تقويه .

بناً د پورته مقاصدو په نظر كي نيولو سره د پروژې تحقيقاتي او د طرح ريزي چاري په ١٣٦٦ كال كي پاي ته ورسيدلي او په ١٣٣٩ هش كال كي د هغي ساختماني چاري شروع او د پنځه كاله څخه په لږه موده كي د څلوريښت مليون متر مكعب اوبو په ظرفيت د بند كاسه د ١١٠٠٠ كيلوواتو په ظرفيت د برق د توليد فابريكه او د ٧٠ كيلو مترو په اوږدوالي كانال چي په يوه ثانيه كي د ٥٠ متر مكعب اوبو ظرفيت لري په ١٣٤٤ كال كي بشپړ شوي.

د ننگرهار كانال لكه څنگه چي وويل شول په يوه ثانيه كي د پنځوس متر مكعب اوبو ظرفيت لري چي پدي حساب سره ټوله هغه شخصي او دولتي ځمكه چي د دي په وسيله خړوبيږي ٣١٠٠٠ هكتارو ته رسيږي چي د هغي له جملي څخه ٢٠٠٠٠ هكتاره ځمكه په اشخاصو، افرادو او نورو دولتي موسساتو پوري اړه لري او په ١١٠٠٠ هكتاره ځمكه كي څلور ميكانيزه فارمونه (هډه ، غازي اباد دوهم فارم او څلورم) فارمونه، تخنيك او وركشاپونه، د اوسيدلو كورونه ، مدرسي ، صحي كلينيكونه ، اداري دفترونه سركونه زاهرو نه هابدرو تخنيكي تأسيسات او نور ساختمانونه جوړ شوي دي.

څرنگه چي د ننگرهار د ناوې پراختيا پروژه يو كمپلكس دي په مختلفو توليدي، زراعتي ، مالداري ، ساختماني ، صنعتي ترانسپورتي تخنيكي صحي او خدماتي برخو كي كار او فعاليت كوي .

نوموړې پروژې په ١٤١٩ هـ ق كال كي د ٨٣٠ كسو پرسونل چي د هغي له جملي څخه ١٩٠ تنه كارمندان او ٦٤٠ كسه ماهر او غير ماهر كارگرو په درلودلو سره لانديني كارونه او فعاليتونه سرته رسولي دي :

الف : په زراعتي برخه كي

١- پروژې په ١٤١٨ هـ ق كال كي ټوله ٥١٦٥ هكتاره ځمكه چي د كرلو مالي او تخنيكي توان يې نه درلوده د صالحه مقاماتو سره د تفاهم او توافق څخه وروسته په اجاره وركړي چي د پورته ذكر شوي ساحي څخه يې په ١٤١٩ هـ ق كال كي تر اوسه پوري ٥٫٢٣٧٢٧٨ منه غنم، ٦٢٢ منه جوار او ٧٠٢٠ منه مي (ماش) د اجاره دارانو څخه په لاس راوړي دي. او هم پروژې وكولاي شول چي د ملل متحد (ايف ، اي، او) په مالي مرسته ١٠٠ هكتاره ځمكه د هډې فارم په ساحه كي د دولتي پروگرام لاندي او ٢٥ هكتاره ساحه كي اوريشي كښت كړي چي د هغي څخه يې ٩٫١٥٥ تنه د غنمو اصلاح شوي تخم، ٣٠ تنه اوريشي او ٢٨٩ تنه بوس لاس ته راوړي دي.

٢- د ننگرهار د ناوې د پراختيا پروژه په داسي حال كي چي د كافي پرسونل په نه درلودلو او د برق د انرژي د كمبود او نشتوالي په صورت كي د ١٤١٩ هـ ق كال په جريان كي وكړاي شول چي ٨٣٥٠٠ هكتاره زراعتي ځمكي او باغونه خړوب كړي .

٣- پروژې د خپلو باغونو د احيا او د ننگرهار ولايت د اوسيدونكو لپاره د ميوه لرونكو، زينتي او بې ميوي بوټو درولو په خاطر په ١٤١٩ هـ ق كال كي ٦٠ هكتاره ځمكه كي نيالگي تربيه كړي دي چي د هغي جملي څخه ١٣٥٧ نيالگي د پروژې مربوط د هډې فارم په اړوند ساحه كي كښېنولي شوي او ٣٥٠٠ ميوه لرونكي او بې ميوي بوټي په وړيا توگه د لوړو دولتي مقاماتو د امراو لزوم ديد په اساس دولتي موسساتو ته وركړل شوي دي ډپورته كارونو څخه علاوه فوريه جاتو وكولاي شول چي ٢١٠٠ اصله ٣٠ سانتي گي قلمچې او په ٨٠٠٠ پلاستيكي خلطو كي د ځنگلي نباتاتو تخم او هم په ١٠٠٠ متره مربع ساحه كي دالو كانهو او نوناتو تخم د فوريه جاتو د راتلونكي انكشاف په خاطر كښت كړي.

٤- د ننگرهار د ناوې د پراختيا پروژې د مالداري د خوراكي په خاطر په ٣ هكتاره ساحه كي ريشه لرونكي نباتات په ٣٨ هكتاره ساحه كي باجره، مي او جوار كرلي وه چي د هغي څخه يې ٩٧٤ تنه تازه خوراكه د مالداري لپاره په لاس راوړي ده .

٥ پروژې پلان درلود چي په دري مرحلو كي ٢٢٥٠ هكتاره باغي ساحه دواپاشي كړي ولي د مالي او تخنيكي مشكلاتو په درلودلو سره يې بيا هم وكړاي شول چي په ١٤١٩ هـ ق كال كي ٥٤٦ هكتاره ساحه دواپاشي كړي .

پاتي لري

ځرنګه ښکلاوي لیکو؟؟؟

داکتر ښادمن

شاعران چې ښکلاوي ترسیم کړي انسان ډېر موثره کولي شي او دانسان روح د ښو و خواته بیایي تاسوته به ښه معلومه وي چې یو شاعر خپل سوز او ګداز د شعر او ښکلاییزو لیکنو چوکاټ ته واچوي تر څه په ځوږ و او خواږه په بیخي خوږو انسان ته ور انتقالولاي شي راځې د «شیدا» په دغه لاندي مرغلرو سترګي ورغړوو او د زړه غوږونه ورته پرانیزو په خپله به وپوهېږو چې په څومره اندازه زموږ په روحي او رواني افکارو تاثیر کوي :

لکه ذرکه د رفعت په کهسار باندي
له خندا سره په سرو سترګو ژړا کړه
باد د هر خس و خاشاک په خپل ګردن وړه
حوصله دي په مثال د لوي دریا کړه
تر غرمي دي د آفتاب زوال لیده شي
وعالم وته زړه صاف لکه سبا کړه
په هر آن کښي پریوتل دي لرزان اوسه
تواضع په اوج د موج غوندي پیدا کړه
چي راحت در څخه ستړي ستومان مومي
خپل صورت دي لکه سیوري د بیدیا کړه
چي دي مخ لکه د صبح صادق سپین وي
په هر کار کښي له عالم سره رښتیا کړه
سایه وار متحمل د سنګ وخار شه
چي په لار د رفاقت دروممي وفا کړه
چي اقوال یي په خلاف د احوال وینم
اعتراض په خامه طبع د «شیدا» کړه

رښتیا! تاسي شل جلده اخلاقي او د نصا نحو کتابونه چې په علمي ډول او د کامل استدلال له لاري لیکل شوي وي

دوام لري

دار او پګړی

لعل پاچا ازمون

تا کــه زمـانې پر ســر د دار پګړي وهلي ده
عشق مو د غیرت دسره انګار پګړي وهلي ده
شور بې د مرغیو ددي وتو سکوت مات به کړي
لوله مي لمبو کي د میوند د ټپې شور حسنه

مــا د یار د څنهو له هر تار پګړي وهلي ده
څې چي دا خــیــل زړونه ورته هار په غاړه واچوو
ذهن مي تیارو کي د ســهار پګړي وهلي ده
اندرا ته پر ســـر د کندهار پګړي وهلي ده

راشــه د نغـمـو په جـام ازمـونه تنده مــاته کـړه
رنګ دي د سندرو پر ســــــتــــار پګړي وهلي ده

د شعر او ادب لړۍ

زما وطنه

محمد حسن «ناصح»

سپینه فضا کښي دا ستا سپین بیرغ ډېر ښکلي ښکاري
لکه نرګس چه د رامبیل کور کښي میلمه غوندي شي
ســتــا د آرزو ګــلان غــوړېږي پري بهــار راغلی
ګل چي غـوړېږي د بلبل هم پري حــمله غــوندي شي
ســتــا ابادي ته ســتــا زامنو ټینګه مــلاتړلی
کــه ته ودان شي دښمنان به ســتــاخــفــه غــوندي شي
نور به دا خــــوار تپي ملت د زړه آرام ومــــومي
زمـوږ په همت به ستـا د غـروتنده ســره غـوندي شي
واړه بي کـــوره به په کـــور شي در په در به نه وي
ســتــا په لمن به د غـریب خـیـټـه مــړه غــوندي شي
ټول وطنوال به نور د هیڅ مــشکل احــســاس نه کــوي
د خــوار غــریب به د کلو چرګي توده غــوندي شي
دا د وحــدت نښــه دي تل مــدام رپانده اوســـه
چي ټول جهــان ته د مــیړاني تنګ شمله غــوندي شي
حــسن ناصح به ولي ځـــان اوس بخــتــور نه بولي
چي هر بیــان یي د اولس د ژوند نغـمـه غــوندي شي

چي هیر مي نکړي اشنا

ساقیار ابو معصوم

اي د زرینو وړانګو لمره
یو ګل سلام زما آشنا ته یوسه
هو د نظر په لاسو
مي ستا ګریوان نیولي
اي د قدرت په پلوشو رنګینه
دا ورته ووایه زما زنداني
زما د زندان غرونه آسمان مچوي
ما د غلیم ناښاد ستم زوروي
زه یو بي وسه باز یم
هغه له ښکاره غلي
هامات وزري شاهین
خدا زده چي پیله به مو څرنګه وي
دا بي باوره ناویسا ورځي شپي
چي هیر مي نکړي اشنا
تاته سلام کومه
د هسک حري په ژبه
تن مي ولچک زولني
زه د رزمونو بچي
لا اوس هم د اتلو سه
د جنګ او ننګ تلرمه !!!

حدیقهٔ وصال

عبدالغفور آرزو

کشان کشان بدوش دل، کشم سبوي الفتش
بباده شستشو دهم، خمار وجورو محنتش
حدیقهٔ وصال او، بود تفریح خیال
چمن چمن فشانده گل، شگفتن محبتش
ز فیض التفات او، لطافت سخنوري
به برگ گل رقم زند، فرشته دم ظرافتش
نسیم نشه پروري، نشیط تازه کن دمد
بروح دل فسرده ام، ز نفخهٔ طراوتش
مقام اشتیاق دل، به بیخودي حریم اوست
به بال عقل قله سا، نمي رسم بخلوتش
سماع صوفیانه را، سفینه، سفر کنم
مزاج غم فزاي دل، کشم بعرش عشرتش
در ان مقام ذوق حال، بکلك تازك خیال
بهار گلشن آفرین، مدیحه خوان حضرتش

ابر و نام تو

ابر و نام تو
در دل ابر عقیم
رعد اگر نام ترا نقش کند
همه جا
میبارد
باران
همه جا میروید جنگل

ترکمنستان و موقف بیطرفي در سیاست خارجي

محمد ظریف «اثیر»

جمهوري ترکمنستان در جنوب آسیاي میانه واقع و از جمله پانزده جمهوریت اتحاد شوروي سابق بود که بعد از فرو پاشي امپراطوري شوروي بتاریخ ۲۸ اکتوبر ۱۹۹۱ استقلال خود را اعلان نمود داراي ۵ میلیون نفوس سرزمین وسیع و منابع سر شار طبیعي بوده ، موقعیت جیوستراتیژیك و معادن سرشار هایدروکاربن آن توجه دوامدار بزرگترین کشور هاي جهان را بخود معطوف نموده است .

در نتیجه تحلیل دقیق حقایق، موقعیت اقتصادي و جیوپولتیك، جمهوري ترکمنستان در سیاست خارجي خود موقف بیطرفي دایمي را که از طرف رئیس جمهور این کشور سفر مراد نیازوف تدوین شده پیش کش نمود که طي جلسه تاریخي ۱۲ دسامبر ۱۹۹۵ اسامبله عمومي ملل متحد به تصویب رسید و ترکمنستان متبعد در سیاست خارجي خود به موقف بیطرفي دایمي وعده سپرد . تحلیل روشن سیاست عمومي ترکمنستان به شمول اجزاي خارجي این سیاست طوریکه از جانب دانشمندان مشهور تائید شده این نتیجه را میرساند که مفهوم بیطرفي سازنده این کشور یك مودل دلخواه انکشافي است و در محتواي خود انکشاف آینده این کشور جریانات منطقوي و جهاني و در عین زمان توقعات ملي و ضروریات عیني جهان امروز را در بر میگیرد.

مفکوره بیطرفي ترکمنستان بر مبنی تفاهم عمیق فلسفي و قانوني انکشاف منطقوي و بین المللي با در نظر داشت عنعنات و نقش تاریخي مردم آن بمیان آمده و اتخاذ این موقف عکس العلمل معقول به تهدید تاریخ بود که مردم ترکمن جهت دریافت انتخاب و موقف خود در سیستم اقتصادي و جیوپولیتیك معاصر به آن مواجه شده بودند . میتوان مشخصات تاریخي مردم ترکمن، را که مردم صلح دوست ، پابند قوانین و مقررات، عنعنات و مذهب اند و احترام و اعتماد (چه رئیس فامیل یا رئیس دولت) را جز اساسي زنده گي میدانند، عامل دیگر در انتخاب این موقف بشمار آورد.

در جولاي ۱۹۹۳ رئیس جمهور ترکمنستان براي اولین بار سیاست بیطرفي مثبت را با باز گذاشتن اقتصاد در اصول اساسي خویش اعلام داشت و بعداً در سومین جلسه سازمان همکاري هاي اقتصادي ایکو که بتاریخ ۱۵ مارچ ۱۹۹۵ در اسلام آباد دایر شد رهبر این کشور تاکید کرد که ترکمنستان بر اساس قانون اساسي خویش موقف بیطرفي دایمي را اختیار آماده است که کشور خود را منحیث مرکز صلح منطقه تحت تضمین هاي بین المللي اعمار نماید و براي حل پرابلمهاي عمده و عاجل جهاني بدون تبعیض و تعصب به ضرورت چنین یك مرکز در قاره آسیا اشاره نمود که این نیت نیك ترکمنستان نه تنها توسط کشور هاي شامل پیمان ایکو بلکه توسط فدراتیف روسیه فرانسه، انگلستان، جرمني و ... پشتیباني شد. قابل یاد آوري است ، یك کشور زماني میتواند موقف بیطرفي دایمي را اعلان و احراز بدارد که واجد شرایط زیر باشد.

۱- اینکه صلح داخلي، ثبات و تضمین هاي اجتماعي مؤثق را که همه معرف مشي بیطرفي اند مهیا سازد.

۲- باید زیر بناي مستحکمي ایجاد گردد تا امکانات میزبان شدن یك تعداد از کنفرانسهاي مختلف و مباحثات بین المللي را مهیا نموده بتواند.

۳- در مسایل سیاست خارجي خود به قوانین و مقررات شناخته شده، بین المللي پا بند باشد.

٤- موافقتنامه ها و پیمانهاي ضد سلاح اتومي و سایر سلاح کشتار جمعي را به امضاً برساند.

۵- پایگاه هاي نظامي خارجي و یا اجزاي آنرا در خاك خود جا نداده و شامل کدام پیمان نظامي یا نظامي سیاسي و یا سازمانهایي که داراي مقررات و لوایح محدود کننده است ، نباشد.

آنچه در رابطه به ترکمنستان میتوان گفت اینکه به اساس این موقف کشور مذکور اولین پروگرام اجتماعي سیاسي خود را بنام (ده سال ثبات) به منصه اجرا گذاشت که نه تنها مورد تائید کامل مردم آن بلکه از جانب جامعه بین المللي مثبت ارزیابي گردید. ترکمنستان منحیث مرکز چندین مباحثه منطقوي قرار گرفته در ماه جنوري ۱۹۹۷ در عشق آباد مجلس مباحثوي بین المللي در مورد کمك هاي بشري به افغانستان دایر گردید. صرف در ماه هاي مي الي جون ۱۹۹۷ عشق آباد میزبان سه کنفرانس بین المللي (تجمع منطقه در اقتصاد جهاني، مشکلات و پرابلمهاي ثبات و امنیت اسیاي مرکزي و منع استفاده از ماین زمیني در سطح جهان) بود .

در سال ۱۹۹۲ عضویت سازمان ملل متحد و OSCE و سایر سازمانهاي بین المللي را بدست آورده به قوانین بین المللي، اصول همزیستي مسالمت آمیز، منع استفاده از قوه و عدم مداخله در امور داخلي کشور هاي دیگر پابند و آنرا رعایت مینماید. تعدادي از موافقتنامه ها و پیمانهاي ضد سلاح اتومي و سایر سلاح هاي کشتار جمعي ، به خصوص معاهده منع تکثیر سلاح ذروي را به امضاً رسانیده و هیچ پایگاه نظامي را در خاك خود نداشته و شامل کدام پیمان نظامي نمي باشد.

به صورت مختصر باید علاوه گردد یا پیروي از موقف بیطرفي دایمي این کشور اجازه ندارد :

۱- در پیمانهاي نظامي و اتحادیه هاي نظامي شامل گردد.

۲- تأسیس پایگاه هاي نظامي را در داخل خاك خود به کشور خارجي اجازه دهد .

۳- جهت مقاصد نظامي به کشور هاي دیگر اجازه دهد که از خاك آن استفاده نماید.

با وجود اینکه بیطرفي کشور ها مفکوره جدید نیست، و در کشور هاي مختلف مانند سویتزرلند، بلجیم، یونان افغانستان، مصر و غیره منحیث یك پروژه در معرض تطبیق قرار گرفتند، سوالیکه روز مینماید اینست که چګونه بیطرفي ترکمنستان طرف توجه جهان واقع شد ؟

در جواب باید گفت که قاعدتاً پیشگامان بیطرفي بر مبناً حق جنگ بیطرف ماندند و تعمیل بیطرفي معمولاً با جنگ مرتبط شد و از نظر تطبیق بیطرفي در یك کشور معمولاً نه از داخل بلکه از کشور هایکه در حال جنگ با همدیگر بودند، بمیان آمد ولي مودل ترکمني بطور کل مفکوره قبلي بیطرفي را تغیر داده و آنرا بر مبناً کاملاً جدیدیکه میگویند قانون موجود بین المللي قانون صلح است، اتخاذ گردیده است و این درك جدید باعث ایجاد همکاري گردیده و در حصول صلح در منطقه کمك مینماید.

اقدامات ابداعي ترکمنستان بیطرف باعث انکشاف مزید همکاري منطقوي شده و این مسئله مخصوصاً بعد از بررسي انکشاف سازمان ایکو بوضاحت دیده میشود کشور هاي عضو ایکو با داشت نفوس مجموعي ۳۱۰ میلیون، اینك به حیث یك مبحث با نفوذ در روابط اقتصاد بین المللي تبارز میکند با در نظر داشت نقش ویژه ترکمنستان در این سازمان امکانات ایجاد یك کانترسیوم منطقوي براي شاهراه ها و خطوط آهن ، در نظر گرفته شده است تا مرکز کمیته ایکو در امور ترانسپورت و مواصلات در عشق آباد تأسیس گردد.

درین آوان که ترکمنستان حمایت سرتاسري دنیا را بخود کسب نموده و متضمن شرایط خارجي مناسب است با متانت به صوب انکشافات معاصر قدم بر میدارد.

این کشور آماده میگردد که وارد قرن جدید به حیث یك ملتي که میتواند سهم ارزنده در تأمین صلح و ثبات در عرصه سیاست بین المللي داشته باشد، گردد.

دستگاه ساختماني تهيه مسكن طي سال گذشته ...

باقيست.همچنان تصدي در سال هاي ۷۳-۷٤ به تعداد ۱۰ پروژه ديگري را نيز تحت اجرا قرار داد كه بعد از ٦ ميزان ۱۳۷٥ كار بعضي آن ها متوقف به حالت اولي باقي مانده است و سه پروژه را در همان سال ها به بهره دهي سپرده است . تصدي در سال هاي ۱٤۱۸-۱٤۱۹ پروژه هاي ذيل را در جلسات داوطلبي برنده شده كه يا تحت ساختمان قرار دارد و يا عنقريب كار آن آغاز ميگردد.

۱- پروژه پولي تخنيك (تمام شد جمع مفاد) از پروژه هاي انتقالي است كار جريان دارد. ۲- پروژه بلاك كارمندان وزارت فوائد عامه از پروژه هاي انتقالي است كار جريان دارد. ۳- تعمير اداري بسهاي برقي به قيمت مبلغ ۲٤۲ مليون افغاني كار جريان دارد.

٤- تعمير محاكم ولايت ننگرهار به قيمت مبلغ ۳۱٤ مليون افغاني كار جريان دارد. ٥- هنگر ميدان هوايي كابل به قيمت مبلغ ۱۲۷ مليون افغاني به بهره دهي سپرده شده . ٦- انستيتوت پما به ارزش مبلغ ۱۳۱ مليون افغاني قرار داد عقد شده حينيكه تخصيص انتقال شد كار آغاز ميشود. ۷- پروسس عسل وزارت زراعت به ارزش ٦٦۸ مليون افغاني كار بعد از عقد قرار داد آغاز ميشود. ۹- مرغداري جنگلك ۱٥۸ مليون افغاني كار بعد از عقد قرار داد آغاز ميشود. ۱۰- بسته خانه صنايع كوچك پلچرخي مخابرات ۳۱٦ مليون افغاني كار بعد از عقد قرار داد آغاز ميشود. ۱۱- **بيز توليدي تهيه مسكن ۷.۹٤۰ مليون افغاني كار بعد از عقد قرار داد آغاز ميشود.** ۱۲- برج بيرق امارت اسلامي افغانستان (تمام شد جمع مفاد) كار جريان دارد. دستگاه ساختماني تهيه مسكن در سال ۱٤۲۰ به تعداد ۸ پروژه انتقالي را شامل پلان نموده است كه به ارزش مبلغ ۱٦.۳۰۰ مليارد افغاني را در بر ميگيرد در صورتيكه پروژه هاي مذكور منظور و تخصيص كافي بدسترس گذاشته شود متيقنيم كه تصدي از حالت فعلي هم فراتر قدم خواهد گذاشت .

هغه كسان چي مور ته ...

كسان چي مور ته د ژبي او قوم په نظر گوري د روسانو په شان زمور دشمنان دي ځكه د افغانستان د اسلامي امارت په ليكو كي ټول قومونه د دين، د اسلامي نظام د واكمني او د جهاد د وياړنو د ساتني په خاطر اوږه په اوږه د خپل گډ دښمن پر خلاف مبارزه كوي.

محترم متقي د مطبوعاتو له ټولو كاركوونكو په تيره بيا له پوهانو، څيړونكو، د پوهنتونونو له استادانو او له نورو ليكوالو نه چي له اصالت نه ډك رسالت په غاړه لري وغوښتل چي په خپلو ليكنو سره په هيواد كي اسلامي فرهنگ او څيړوني لاپسي بډايي كړي . او په دي لاره كي په گډو هلو ځلو او همكاري **سره خپل تاريخي رسالت او مسؤوليت ادا كړي.**

وروسته محترم استاد گل احمد «يما»، محترم استاد عبدالبشير فضلي، محترم استاد وفا ، محترم استاد وحيد غروال، محترم استاد يمين او بو شمير نورو ليكوالو او پوهانو په هيواد كي د مطبوعاتو او څيړونو د حالت د ښه والي په باب په وار سره خپلي نظريي او پيشنهادونه وړاندي كړل چي په پاي كي دغه **غونډه د محترم ملا امير خان متقي لخوا په هر اړخيزه توگه وڅيړل شوه او ټني غونډه د پوهانو او څيړونكو لخوا د گډورو او اغيزمنو سلا مشورو په وړاندي كولو سره گډوره او مشبته وبلل شوه .**

پيښي او پرمختگونه — حادثات و انكشافات

مردم كشمير بخاطر آزادي شان به جهاد عليه هند ادامه خواهند داد

سيد عليشاه گيلاني رئيس كنفرانس حريت كشمير ديروز اظهار داشت كه با وجود روش غير انساني قواي اشغال گر هندي بر ضد كشميري ها مردم كشمير مصمم اند براي آزادي اين ايالت كه در پاي كوه هماليا قرار دارد به مبارزات خويش بر ضد هند ادامه دهند .

وي در اجتماعي كه در يكي از نواحي سرنيگر سخن ميگفت علاوه كرد هندو ها براي خفه ساختن جنبش آزاديخواهي مردم بهر وسيله غير انساني دست ميزنند.

هندو ها اكنون به قتل افراد كشميري چون انجنيران داكتران، علماء و دانشمندان شروع نموده است تا بدينوسيله مردم كشمير را تحت سلطه خود قرار دهد . گيلاني گفت كشميري هاي مسلمان الي بدست آوردن آزادي شان به مبارزات خويش ادامه داده و خواهند داد .

ايهود بارك در انتخابات اسرائيل برنده شناخته شد

ايهود بارك كانديد حزب كارگر اسرائيل در انتخابات آنكشور در مقابل نيتانياهو صدراعظم اسرائيل و نامزد حزب ليكود در اين انتخابات به پيروزي قابل ملاحظه نايل گرديد . نيتانياهو پس از بسته شدن حوزه هاي انتخاباتي اين شكست خود را اعتراف نموده گفت كه از رهبري حزب ليكود نيز استعفا خواهد نمود. ايهود بارك در يك بيانيه به مناسبت پيروزي اش از طرفداران خود ابراز قدرداني نموده گفت كه در ظرف يك سال نيرو هايش را از لبنان خارج خواهد كرد . بل كلنتن رئيس جمهور ايالات متحده امريكا و رهبران كشور هاي عربي از پيروزي ايهود بارك كانديد حزب كارگر استقبال نموده و ابراز توقع برده كه نامبرده روند صلح شرق ميانه را به جلو اندازد ياسر عرفات رهبر فلسطيني ها نيز از اين پيروزي ابراز خوشي كرده است . رهبران فرانسه، انگلستان و سويدن اظهار داشته اند كه پيروزي ايهود بارك در انتخابات اسرائيل اميد هاي تازه، را در جهت به جلو انداختن روند صلح شرق ميانه به ارمغان خواهد آورد. كشور هاي مصر و اردن خاطر نشان ساختند كه ايهود بارك در تأمين صلح در شرق ميانه صرف مساعي نموده و مذاكرات به ركود مواجه شده صلح شرق ميانه را تحرك خواهد بخشيد.

تلاش بمنظور اتصال شهر هاي بزرگ جهان از طريق انترنت

يك شركت مخابراتي كانادا در نظر دارد در اتصال يكصدو شصت شهر بزرگ و مهم دنيا از طريق شبكه جهاني انترنت در اين راه پيشقدم شود .مطبوعات كاناډا روز سه شنبه نوشت شركت كالاگلوف مبلغ پنج مليارد دالر امريكايي را براي ايجاد يك شبكه در اين رابطه سرمايه گذاري ميكند تا اين ارتباط را بر قرار سازد . اين شركت اعلام كرد هدفش از اين اقدام جنگ انداختن به بازار رقابتي براي گسترش فعاليت جهاني انترنت ميباشد . گلوسترين اولين و بزرگ ترين سيستم ارتباط از راه دور در نوع خود ميباشد كه با استفاده از لوازم پيشرفته انترنت اطلاعات و تصاوير ويديويي را از طريق يك شبكه واحد منتقل ميسازد و دو مليارد نفر از جمعيت جهان را بهره مند ميسازد راه اندازي و تكميل اين شبكه پنج سال طول ميكشد و شامل سيستم الياف تصويري از طريق زمين و زير آب ميباشد و مورد استفاده شركت هاي تيلفون خدمات انترنت و مشتريان تجاري خواهد بود.

د نړۍ د ووړي پخولو لرغوني كتاب وپلورل شو

د نړي د ووړي پخولو ډير لرغوني كتاب په انگلستان كي د ليلام په ډول په لس زره پوندو وپلورل شو . د نيوز ورځپاڼي د خبلي رواني اووني په گڼه كي ددغه خبر په ليكلو سره ځرگنده كړه په پنځلسمي پيړۍ پوري مربوط د ووړي پخولو دغه ايتالوي كتاب په لاتيني ژبه چي نژدي د دري سوه ډولونو خوړو د پخولو مطالب لري وپلورل شو چي د ليلام د برابرونكي په ځرگندونه دغه خواړه اوس هم كيداي شي د خلكو له ذايقي سره سم ځرگند شي. دي وايي دغه كتاب چي په يوه ناپيژندل شوي پيرودونكي باندي پلورل شويدي د يوه ايتالوي داكتر لخوا په سلگونو كاله مخكي ليكل شويدي او د منځنيو پيړيو د ووړي پخولو او ددغه دوران د خلكو د خوراكي رژيم په باره كي د ارزښتناكو واقعيتونو او اړخونو د ځرگندولو له پلوه تاريخي ارزښت لري.

د تركيي د اولسي جرگي د يوي مسلماني غړي مروي تابعيت ختم كړل شو

انقره : په تركيه كي چي يو وخت د اسلامي نړي مركز او د اسلامي خلافت مركز ؤ نن د هغه هيواد د سيكولر حكومت لخوا د پارلمان يوي منتخبي مسلماني غړي ته د حجاب پر سر داسي جزا وركول كيږي چي له ټولو بشري قوانينو نه پكي سر غړاوي دي.

د تركيي اولس مشر سليمان ديميرل د هغي تابعيت ختم كړي دي او حكم يې كړي دي چي نور له تركيي نه ووځي.

د كابل ښار په ديني او ...

كي نن د باختر د اطلاعاتي اژانس له خبريال سره د خبرو په ترڅ كي وويل د افغانستان د اسلامي امارت د چارواكو د پاملرني او د پوهني وزارت د مشرتابه هيأت او د كابل ښار د پوهني د رياست د مسوولينو د هڅو له امله د هيواد د ځوان نسل د ښوونې او روزنې د بهير د بيا احيا كولو په باره كي لله الحمد په روان كال كي يو سلو دوه څلويښت زره اته سوه يو اويا تنه طالب العلمان د څه د پاسه يو سلو نهه ويشتو مدرسو په بيلا بيلو ټولگيو كي د عصري او اسلامي علومو په زده كړه بوخت دي چي د لوست چاري يې د څه د پاسه دوه زره دري ويشتو تنو استادانو لخوا پر مخ بيول كيږي . ده زياته كړه په شرايطو برابر څه د پاسه لس زره تنه ماشومان نوي د كابل ښار د بيلا بيلو مدرسو په لومړيو ټولگيو كي منل شويدي چي د تيرو كلونو په پرتله په سلو كي ديرش زيات والي ښيي. د كابل ښار د پوهني رئيس زياته كړه د ۱٤۱۹ هجري قمري تعليمي كال په پاي كي دوه زره پنځه سوه ديرش تنه طالب العلمان د عمومي مدرسو له دولسمو ټولگيو نه فارغ او كابل پوهنتون ته ورو پيژندل شول چي لله الحمد په بري سره د كانكور د ازموينې له تيرولو وروسته په كابل پوهنتون كي شامل او همدا اوس په بيلا بيلو پوهنځيو كي په لوړو زده كړو بوخت دي.

زمينه عودت دو باره ...

در كشور مطابق هدايات و رهنمود هاي عاليقدر امير المؤمنين و شوراي محترم سرپرست گامهاي عملي برداشته و با ايجاد تشكيلات و توظيف جزو تام هاي امنيتي در اكثر نقاط كشور خاصتاً در مناطقيكه اخيراً بدست اردوي اسلامي فتح شده وظايف و مسؤوليت هاي شانرا صادقانه انجام ميدهند. وي گفت به خاطر تطبيق و تعميم بهتر قانونيت و تنفيذ كامل شريعت اسلامي ادارات مربوط قطعات و منسوبين برنامه هاي منظم تعليم و تربيه را روي دست گرفته اند. اكمال پرسونل در قطعات و جزوتام هاي مربوط در سر خط وظايف هيئت رهبري وزارت امور داخله قرار دارد كه تضمين كننده كار مؤثر و سرعت عمل بوده و در تسريع امور مربوط از اهميت ويژه بي برخوردار ميباشد.

در شفاخانه رابعه بلخي...

اين بخش اختصاص داده شده است كه تنها در اين سرويس دو متخصص گوش و گلو دو معاون داكتر و بيست نرس شب و روز در خدمت مريضان مي باشند.

محترمه دكتورس نظيفه علاوه نمودند : اكثراً افات و التهابات گلو بيشتر از خوردن غذا هاي مخرش (شيريني باب، مرچ، ترشي و غذا هاي پياز بريان دارد) منشأ مي گيرد . انداختن دوا هاي خود سرانه در گوش مكروب افرازات چرك گوش را در برابر انتي بيوتيك ها مقاوم مي سازد و تداوي مرض را دوامدار نموده، آفات و تكليف گوش را مزمن تر ميسازد. همچنان پاك كردن گوش توسط سيخك، چوبك گوگرد و داخل نمودن برخي اشياي خورد و ريزه در گوش سبب آسيب رسيدن به پرده، گوش و حتي در بعضي مواقع باعث كر شدن مي گردد بناً از همه فاميل هاي محترم تقاضا ميداريم از استعمال اشياي فوق الذكر در گوش خود و اطفال ايشان جداً جلوگيري نمايد و با درك اندك ترين درد و تكليف و آمدن افرازات گوش، عاجل نزد داكتر مراجعه نموده و از استفاده ادويه هاي خود سرانه جداً پرهيز نمايند. راجع به اجراات و خدمات مؤظفين شفاخانه يكتن از مريضان چنين گفت : اسم من «بي بي» و باشنده ولايت وردك ميباشم گلو دردي شديد داشتم پدرم مرا به پاكستان برد بالاخره معلوم شد كه تكليفم در ناحيه تانسل گلو بود شفاخانه هاي پاكستان از پدرم هفت هزار كلدار را جهت اجراي عمليات من مطالبه نمود اما او از آنجا مرا واپس به كابل آورده و در شفاخانه رابعه بلخي بستر شدم و عملياتم توسط محترمه دكتورس صالحه جان رايگان صورت گرفت و اكنون الحمدلله صحت ياب شده ام.

د اوبو او بريښنا وزارت خبرتيا

د اوبو او بريښنا وزارت د بريښنا د منابعاتو د مخنيوي او د بريښنا د محصول د بيرته د راټولولو په مقصد د افغانستان د اسلامي امارت له ټولو پوځي او ملكي اورگانونو هيله كوي هغه اورگانونه چي تر اوسه پوري د بريښنا ميټر نه لري او بريښنا يې فعاله ده خپل مربوط ميټرونه دي د كابل د بريښنا رياست له لاري ولگوي. كه نه قانوني چلند ورسره كيږي .

يك هيأت دانشمندان ...

با محترم مولوي حمد الله نعماني سرپرست وزارت تحصيلات عالي در مهمان خانه هوتل انتركانتيننتال روي موضوعات همكاري هاي علمي براي پوهنځي هاي طب كابل و ننگرهار صحبت نموده پيرامون برنامه كاري آينده متخصصين پوهنتون لوماليندا بحث همه جانبه صورت گرفته توافق بعمل آمد تا در ظرف كمتر از شش ماه عملاً فعاليت هاي علمي و مسلكي طبي را براي انكشاف بلند بردن سويه دانش و آماده كړي ، آماده سازي تجهيزات لازمه درسي آغاز نمايند.

طي اين ملاقات محترم سرپرست وزارت تحصيلات عالي از شرايط لازمه تحصيلي و تأمين امنيت در حاكميت امارت اسلامي به دانشمندان پوهنتون متذكره اطمينان داده و توقع نمود تا اين همكاري كه بعد از گذشت بيست و پنج سال مجدداً آغاز ميگردد در رفع پرابلم هاي تحصيلي طبي ممد واقع شود.

طبق يك خبر ديگر هيأت موصوف ديروز از بخش هاي مختلف شفاخانه وزير اكبر خان كه در آن ستاژيران طبي نيز مصروف تحصيل و آموزش علمي هستند ديدن نمود.

همچنان داكتر ميرمن جان كاگن عضو هيأت متذكره و رئيس ارتباط خارجه پوهنتون لوماليندا از بخش نسوان اكادمي علوم طبي ديدن نموده از فراهم آوري تسهيلات براي تداوي اناثيه اظهار خوشي كرده و اضافه نمود آنچه كه من مي بينم و آنچه كه در خارج امارت اسلامي در مورد امنيت و حقوق زنان تبليغ و به نشر ميرسد تفاوت فاحشي وجود داشته و خوشحالم كه چشم ديد خود را حين بازگشت به مردم امريكا بازگو نمايم.

داسي شخصيتونه چي ...

اصرار كړي دي او د جنگ د دوام يو ستر عامل دي. هغه هيڅكله په انتخاباتو اصرار نشي كولاي ځكه چي هغه خپل مخ په هنداره كي گوري او كه انتخابات را منځته شي دي كي شك نشته چي نتيجه به د مسعود لپاره ډيره بده وي

د غازي ليسي ړنگه ...

معلومات وركړل . د غازي عالي مدرسي د وداني د بيا جوړولو په هكله بايد ووايم چي د سلواغي د مياشتي د پنځه ويشتمي نيټي څخه يې د بيا رغوني كار د لوي غړ، د موسسي چي د G.A.A د كمكي موسسي له خوا تامين كيږي د دوه سوو دولس تنه كارگرانو په گډون شروع شوي و د محرم الحرام په اته ويشتمه د پاك كاري چاري يې سرته ورسيدېد بيا جوړولو په هكله يې بايد ووايو چي د لوي غر د موسسي د وعدي سره سم اميد دي چي ژر تر ژره به د مدرسي د ديوالو او دولسو خونو د جوړولو كار پيل شي . محترم بريالي د مدرسي د تدريسي چارو په هكله وويل : په موجوده كال كي د استادانو شمير د تاريخ او ښځو په گډون شپېته او د شاگردانو مجموعي شمير ٥٥۰ تنو ته رسيږي چي د ځاى د نشتوالي په سبب يوه برخه يې د اساني په مدرسه كي د مهاجرت حالت تيروي او بله كوچني برخه يې د شاگردانو د مشكلاتو په خاطر دلته تر تعليم لاندي دي. په پاي كي د غازي عالي مدرسي محترم مدير خپلي ستونزي داسي مطرح كړي : د امكان په صورت كي ژر تر ژره دې تعمير د وداني د آبادولو په هكله تلاش وكړي تر څو چي زمونږ د زده كونكو او ښوونكو ستونزي كمي شي ځرنگه چي امارتي نور كارمندان د موټر د كرايي په نامه يو څه افغاني اخلي اما معلمين دغه امتياز نه لري كه له دغه امتياز څخه برخمن شي ډير به ښه وي .

د تير كال په اوږدو كي...

او امارتي ساختمانو څخه لكه شفاخاني ، توقيف خانه او نورو ځايو له ښار د باندي انتقال شوي او له دي مدركه سل مليونه څلور سوه پنځوس زره افغاني د ښاروالي د عوايدو حساب ته شامل شوي دي. علاوه پر دي ښاري عمومي تشنابونه هم وخت په وخت پاك او تخليله شوي دي چي مصرف يې پخپله د ښاروالي پر غاړه ده . د سرسبزي په برخه كښي د نوي ښار او بهارستان سركونه او باغ بابر شاه د هيئات د محترمي اداري په مالي مرسته تر يوه حده احيا او جوړ شوي دي همدارنگه يوه اساسي او پخه وياله په سالنگ وات كښي د ميوي او تركاري د ماركيت تر مخ د تنظيف او سرسبزي د عملي له خوا جوړه او تر استفادي لاندي راغلي ده په عين حال كښي د شهر ارا په څلور لاري كي د آريانا د كارتي د پروژي تر څنگ لاندي كانال هم پاك او استفادي ته تيار شويدي البته د نوموړي رياست لخوا د سرسبزي په هكله تر سره شوي فعاليتونه به په بله گڼه كي ستاسي حضور ته وړاندي كړو .

د گڼون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

تبصره

د هيواد تحصيلي موسسي د پرمختگ په درشل كي

تيره ورځ د امريكا د متحده اياالاتو د لوماليندا د پوهنتون يو علمي هيئت كابل ته راغي او په افغانستان كي يې د تحصيلي مؤسسو د لاښه كولو په منظور د اسلامي امارت له چارواكو سره ليده كاته وكړه ددي علمي هيئت د راتگ هدف زمونږ د هيواد په تحصيلي موسسو كي د نويو تدريسي او تحصيلي ميتودونو عملي كول، د محصلينو لپاره د علمي سمينارونو د دايرول او په ځانگړي توگه د كابل او ننگرهار د طب له پوهنځيو سره په تدريسي همكاريو برسيره د تخنيكي مرستو تر سره كول شامل دي.

له نن نه نږدي پنځه ويشت كاله پخوا د لوماليندا پوهنتون او د كابل او ننگرهار پوهنتونونو ترمنځ همداشاني اكاديميك تو اميت او علمي مرستي موجودي وي . چه د كمونستي فاجعي له رامينځته كيدو نه بيا تر اوسه پوري همداسي معطل پاتي ؤ .

له بهرني نړي نه ددي شاني علمي هيئاتونو راتگ خپله ددي ښكارندوي دي چي په هيواد كي د نورو اداري، فرهنگي، اقتصادي، عمراني او صحي چارو په شاني په تعليمي او تحصيلي برخه كي هم د پام وړ گامونه اخستل شوي دي.

او د اړونده چارو مسؤولين د هيواد د نوي نسل د ښي روزني او د هغوي له منځ نه د سالم كدر د غوره والي په منظور نه ستړي كيدونكي هلي ځلي كړي .

د هغوي د همدغو هلو ځلو نتيجه ده چي نن په لس گونو زره تنه د هيواد په ديني او عصري مدرسو كي او همدارنگه په كابل ننگرهار مزار شريف، هرات او كندهار كي د لوړو زده كړو په موسسو كي(ځانگړي ــ طالبان او محصلين په تعليم او تحصيل بوخت دي.

همدا راز د هغو افغاني مهاجرو محصلينو لپاره چي له هيواد نه بهر له يو لړ تحصيلي ستونزو سره مخامخ ؤ ددي زمينه برابره شوه چي د هيواد په دننه تحصيلي مؤسسو كي خپل تحصيل په واړه زړه تر سره كړي او د هغوي ټولي اړتياوي د اسلامي امارت لخوا پوره شي.

زمونږ د جنگ ځپلي هيواد پدي حساسو شرايطو كي ددا شاني علمي هلو ځلو تر سره كول پدي معنا دي چي په هيواد كي د مادي او فزيكي رغوني تر څنگ علمي او معنوي بيا رغوني ته هم جدي پاملرنه موجوده ده په افغانستان باندي د ملحدو روسانو د يرغل په نتيجه كي په نورو ناخوالو برسيره زمونږ د هيواد په زرهاو تنه مسلمان متدين علمي كدرونه يا خو شهيدان او يا هم وطن پريښو دلو ته مجبور شويدي له همدي امله اسلامي امارت د خپل ځان اساسي مسؤوليت بولي چي د همدي علمي خلا د ډكولو په منظور د ژوند په بيلا بيلو برخو كي ځوان مسلمان كدرونه خپلي افغاني ټولني ته وړاندي كړي . تر څو هغوي وكړي شي چي د خپلي اسلامي عقيدي«ايډيالوژي» په درلودلو او د علم او ترقي په ډگر كي يې لوړ علمي استعداد سره د خپل مسلمان ملت او ړنگ شوي افغانستان سالمو غوښتنو ته مثبت ځواب ووايي او پدي لاره كي خپل اسلامي او اخلاقي مسؤوليت سرته ورسوي.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press